د لـــوړو زده کړو وزارت

التقــوی د لوړو زده کړو مؤسسه

د علمـــي چارو معاونیـت

د مؤسسې فرهنګي کمیټه

# د ټولني په پرمختګ کې د برخې اخیستنې مکانیزم

کال: ۱۴۰۲ هـ ش


بسم الله الرحمن الرحيم

Contents


سریزه: ........ 4

لومړی فصل........ 5

عمومي احکام ........ 5

لومړی ماده: مبنی:........ 5

دویمه ماده: ددې د میکانیزم موخې عبارت دي له: ........ 5

دریمه ماده:  د تطبیق ساحه:........ 5

څلورمه ماده:  د مؤسسې د استادانو لخوا په ټولنه کې د ونډې اخیستنې موارد: ........ 5

پنځمه ماده: د مؤسسې د استادانو لخوا په ټولنه کې د ونډې اخیستنې طرز او طریقه:........ 6

دوېم فصل........ 7

د ټولني په پرمختګ کې د علمي، اداري کارکونکو او محصلانو مکلفیتونه ........ 7

شپږمه ماده: علمي کادر غړو مکلفیتونه: ........ 7

اومه ماده: اداري کارکوونکو مکلفیتونه:........ 7

اتمه ماده: د محصلانومکلفیتونه: ........ 7

درېیم فصل........ 8

متفرقه احکام ........ 8

نهمه ماده: د ټولني په پرمختګ د علمي ، اداري کارکوونکو او محصلانو ونډې اخیستنې چوکاټ: ........ 8

لسمه ماده: په ټولنه کې د ونډې اخیستلو د میکانیزم تصویب او انفاذ:........ 8

**سریزه:**

التقوی د لوړو زده کړو موسسه چې د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه د (۵۵) ۱۳۹۰/۱۱/۲۵ ګڼې فعالیت جواز درلودونکې ده او ننګرهار ولایت جلال اباد ښار کې د اوس مهال لپاره په دوو علمي برنامو ( حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد پوهنځیو) کې په معیاري او اصولي ډول خپل علمي فعالیتونه مخ ته وړي، التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د لوړو زده کړو وزارت او د هېواد نافذه تقنیني اسنادو په رڼا کې خپل د خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسیده لپاره په تحصیلي، تدریسي، علمي، څېړنیز، عملي او نور برخو کې مختلف فعالیتونه مخ ته وړي او ددې په اساس د ټولنې په پرمختګ خپله ونډه اخیسته یوه مهمه او اساسي موضوع ده.

دهرې ټولنې د پرمختګ اوترقۍ راز د هغې ټولنې په علمي او اکاډمیکو فعالیتونو پورې اړه لري، نو که چېرې علمي او اکاډمیک فعالیتونه په یوه ټولنه کې موجود او منظم وي نو هغه ټولنه په یقیني توګه با ثباته او د هر اړخیز پرمختګ څخه برخمنه وي، په ځانګړي ډول په علمي او اکاډمیکو نهادونو(پوهنتونونو/لوړو زده کړو موسساتو) کې دعلمي فعالیتونو ونډه په زیاته اندازه مؤثریت او مفیدیت لري، ځکه که چېرې په یوه ټولنه کې د علمي نهادونو ونډه معمول او مروج وي، نو دا د هغې ټولنې او علمي نهاد په فعال والي او منظموالي دلالت کوي او کله چې د کومې اجتماع علمي نهادونه فعال او مظم وي نو هغه ټولنې ببیا ډېر روښانه راتلونکی لري، چې له نېکه مرغه زموږ د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه پدې برخه کې تر زیاتې اندازې پورې منظم او د تضمین کیفیت په چارو کې بریالي دی، چې همدا لامل دی چې زموږ محصلین په جریان د تحصیل او هم له فراغت وروسته ډیرې ښې لاسته راوړنې لري، چې عمده لامل یې د استادانو له لوري د منظمو علمي فعالیتونو ترسره کول دي، چې نظر همدې فعالیتونو اود علمي کادر د غړیو مسئولیتونو ته په کتوسره دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د علمي فعالیتونو د ونډې اخېستو مېکانېزم ترتیب او لاندې بېلا بېلو برخو ته شامل دی.

د میکانیزم ارزښت پدې کې دی چې ددې مکانیزم په اساس به د التقوی د لوړو زده کړو موسسه به وتوانیږي چې په ټولنه کې د خپلو موجوده علمي برنامو، علمي او څېړنیزو فعالیتونو په اساس به د خلکو د علمي پوهاوي سطحه لوړه کړي. همدارنګه ټولو هغو سیمو ته به هم لاسرسی پیدا شي چې هلته د حقوقي او اقتصادي پوهاوي سطحه حتی صفر ګڼل کېږي. لکه لرې پرتې سیمې او ولسوالۍ چې دا پروسه به د خپلو استادانو، کار کوونکو او محصلانو پرمټ مخ ته وړل کېږي. فلهذا په محصلانو کې به هم دا وړتیا پیداشي چې په خپلو سیمو کې حقوقي او اقتصادي مسایل داسلامي شریعت او د افغانستان د نافذه قوانینو په رڼا کې حل او فصل کړي چې دا کار به په ټولنه کې د دایمي او مستقر ثبات، استقرار او پرمختګ باعث شي، چې دا په خپل ذات کې ددې مکانیزم په آهمیت دلالت کوي.

## لومړی فصل

## عمومي احکام

### لومړی ماده: مبنی:

د لوړو زده کړو محترم وزارت د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوونې د دویم معیار او هم د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د ستراتژیک پلان په اساس دغه ( د ټولني په پرمختګ کې ونډه اخیستنې مکانیزم) تدوین شوی دی.

### دویمه ماده: ددې د میکانیزم موخې عبارت دي له:

1. د دې میکانیزم عمده موخه په ټولنه کې د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د موجوده پوهنځیو د علمي او متخصصو کادرونو( څېړونکو، استادانو، کارکوونکو او محصلانو) ونډه اخیستنه ده.
2. د دې میکانیزم بله موخه د په ټولنې په پرمختګ کې د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د موجوده پوهنځیو د علمي او متخصصو کادرونو( څېړونکو، استادانو، کارکوونکو او محصلانو) ونډه اخیستنه د چارو تنظیمول دي.
3. د دې میکانیزم بله موخه د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولو علمي، څېړنیزو فعالیتونو عملي مؤثریت ګټورتوب رامنځ ته کول.
4. ددې مکانیزم په اساس د ټولو هغه فعالیتونه چې د هغې په اساس التقوی د لړو زده کړو مؤسسې د ټولنې په پرمختګ کې د خپلې ونډې ثابتولو ټولو اړونده چارو ته اصولي چوکاټ رامنځ ته کول.

### دریمه ماده: د تطبیق ساحه:

(۱) التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه علمي د اسلامي شریعت ، هېواد او لوړو زده کړو وزارت نافذه تقنیني اسنادو او ټولني د فرهنګ ارزښتونو په نظر کې نیولو او هم ددې مکانیزم چوکاټ ته په پام سره د ټولني په پرمختګ کې د ترسره کیدونکي فعالیتونو باندې د تطبیق وړ ده.

(۲) دغه مکانیزم ددې مؤسسې په ټولو برخو کې د تظبیق وړ ده او د مؤسسې علمي چارو معاونیت ترڅتر لاندې د مؤسسې فرهنګي کمیته کې تطبیق، څارنې او ځواب وینې لومړی مرجع شمیرل کیږي.

### څلورمه ماده: د مؤسسې د استادانو لخوا په ټولنه کې د ونډې اخیستنې موارد:

1. له نورو بهرنیو اداراتو سره د مؤسسې د تفاهمنامې له مخې په ټولنه کې د استادانو لخوا په ټولنیز ، اصلاحي، روزنیز او نورو اړوندو پروګرامونو کې ونډه اخیستل.
2. په تلویزیوني او راډیوي پروګرامونو کې ګډون کول.
3. د اړتیا په صورت کې د ټولنې د اړمنو خلکو سره کومک او همکاري کول.

4. د مذهبي ، ملي او نړیوالو ورځو نمانځل او درناوی کول .
5. د ټولنې د عامه پوهاوي په برخه کې ونډه اخیستل.
6. د اړتیا په صورت کې د ټولنې د ستونزو په نظر کې نیولو سره د څیړنې او روزنیزو سیمینارونو وړاندې کول.
7. .نشر شوي، څیړنو، تالیفاتو او لیکنو په اساس ونډه اخیستل.
8. عملي برنامو او پروګرامونو په اساس د ټولني په پرمختګ کې ونډه اخیستل.

## پنځمه ماده: د مؤسسې د استادانو لخوا په ټولنه کې د ونډې اخیستنې طرز او طریقه:

1. مؤسسه د نورو بهرنیو اداراتو سره تفاهمنامې او تړونونه لري چې له مخې يې مؤسسه په اړونده برخو کې همکاري کوي ، نو د همدې پروسیجر په نظر کې نیولو سره په اړونده برخو کې استاد د مؤسسې له لوري مکتوبي او یا شفاهي طریقې سره په اړونده برخه کې همکاري کوي ، لکه تلویزیوني او راډیوي برنامو کې بحثونه او نظریات وړاندې کول. همدارنګه د مؤسسې له لوري ملي او نړیوالې ورځې نمانځل کیږي ، چې په اکاډمیکه ساحه کې استادان خپلې مقالې او معلومات د نیول شوې غونډې له لارې د ګډونوالو سره شریکوي . د مؤسسې استادان په هر سمستر کې په یوه موضوع کې په څیړنه کولو باندې مکلف دي، نو په همدې خاطر د څیړنو کمېټه د ټولنې د ستونزو په نظر کې نیولو سره څیړ نیز موضوعات د څیړنو لپاره مطرح کوي چې له مخې يې د مؤسسې استادان د څیړنې په برخه کې د څو کمیټو له لوري په ورکړل شویو څیړنیزو موضاعاتو باندې څیړنه کوي او د ټولنې د ستونزو د حل لپاره حل لارې وړاندیز کوي . او د ټولنې د عامه پوهاوي په برخه کې استادان د مؤسسې د استازي په صفت د ټولنې د عامه پوهاوي په برخه کې ګډون کوي.
2. دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې دا خپل مکلفیت ګڼي چې د نرۍ او سیمې په کچه د باور وړ علمي بنسټ په توګه وه اوسي نو نظر همدې مکلفیت او مسؤلیت ته په کتوسره خپله راتلونکې داسې اټکلوي چې په پوهنیز ډول د سیمې او نړۍ په کچه داسې مؤسسه؛ چې د تبعیض (نژاد، ژبې، مذهب، ملت، ملیت، توکم، جنس، سیمې) پرته او په نړیواله کچه مسلکي، ژمن او په کار پوه کادرونه هېواد، سیمې او نړۍ ته په اړونده برخو کې د چوپړ په موخه چمتو کړي.
3. نو پر همدې بناء مؤسسه د خپل ماموریت په ترڅ کې دې ته په کلکه ژمن دی چې خپل ځوربدلي ملت او هېواد ته د چوپړتیاوو په وړاندې کولو سره مسلکي او د اوس مهال ځوان (حقوقي، عدلي، قضایي، سیاسي، او ډیپلوماتیکي، په اقتصادي، مالي او پانګه اچونې برخه کې په کار پوه) کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي، چې دې موخې ته د رسیدو په موخه دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي کادرونه نه یواځې د مؤسسې په داخل کې محصلانوته په علمي اوټولنیزه برخه کې خپل علمي خدمات وړاندې کوي بلکې د مؤسسې څخه بهر په ټولنه کې د ټولنې نورو افرادو ته هم د هغو مسایلو په برخه کې چې زموږ ټولنه ورته په علمي برخه کې( سیاسي، حقوقي، د قانون حاکمیت، دتاوتریخوالي له منځه وړل، سوله ایز ژوند کول، ښه حکومتولي، د عدالت تأمین، قانون ته ژمنتیا، د افرادو د حقوقو او مکلفیتونو پیژندنه او د هغه احترام، اقتصادي لوړتیا او پرمختیا، کوچنیو تجارتونو پیلول، مالي او بانکي موضوعاتو څخه اګاهي.....) اړتیا لري که هغه د دولت د رسمي مامورینو په برخه کې وي او که د عادي افرادو په برخه کې وي خپل مسؤلیت اداء کوي.
4. دالتقوی د لوړو زده کړو موسسه د ټولو اسلامي او ملي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره د یو فعال علمي نهاد په توګه په افغاني ټولنه کې فعاله ونډه اخلي او د خپلو علمي او متخصصو کادرونو پرمټ به دغه پروسه مخې ته وړي.

## دوېم فصل

## د پوهنتون په پرمختګ کې د علمي، اداري کارکونکو او محصلانو مکلفیتونه

### شپږمه ماده: علمي کادر غړو مکلفیتونه:

1. دالتقوی د لوړو زده کړو موسسې ټول علمي کادرونه ځان مکلف ګڼي چې د هر کال په جریان کې د خپل مسلک د ساحې اړوند د دریو حداقل هغه موضوعاتو په اړه علمي سمینارونه وړاندې کړي کومو ته چې افغاني ټولنه جدي اړتیا لري او هم مکلفیت لري چې په لرو پرتو سیمو کې د عامو خلکو مرتبطو مسایلو ته رسید ګي وکړي.
2. هغه ټول علمي او ټولنیز فعالیتونه چې په ملي کچه دافغانستان په ټولنه کې په مختلفو وختونو او ځایونو کې ترسره کېږي د هغې په اړه باید یو منظم راپور ترتیب او خپل پوهنځي  ته یې وسپاري.
3. په دې برخه کې چې کومو امکاناتو ته اړتیا وي هغه  دالتقوی د لوړو زده کړو موسسې مکلفیت دی چې په معین وخت کې اړونده استادانو ته په واک کې ورکړي. لکه موټر، خوراک څښاک، د تحقیق لپاره کتابونه اونور اړونده ضروریات.
4. همدارنګه ټول عمي کادر غړي د خپل وس مطابق د هېواد په مختلفو رضاکارانه کارونو کې چې دوي پکې حداقل پوهه او معلومات لري یا کار کولای شي ګډون وکړي او خپله ونډه ثابته کړي.

### اومه ماده: اداري کار کوونکو مکلفیتونه:

1) دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې ټول کارکوونکي ( اداري او خدماتي ) په دې مکلف دي چې په خپلو سیمو کې اړونده د خپل مسلک او نورو موضوعاتو په حل کې خپل رول اداء کړي. او هغه موضوعاتو ته چې افغاني ټولنه ورته جدي اړتیا لري د هغې په اړه د هغو سیمو او سیدونکو ته عامه پوهاوی ورکړي. همدارنګه په لرو پرتو سیمو کې د عامو خلکو مرتبطو مسایلو ته رسید ګي کې ترممکنه حده برخه واخلي.
2) ټول کار کونکي مکلف دي چې د خپلې اداري تجربې او کاري ساحې په اساس د ټولنې حداقل یوه کوچنۍ ستونزه حل کړي.
3) همدارنګه ټول کارکوونکي خپل وس مطابق د هېواد په مختلفو رضاکارانه کارونو کې چې دوي پکې حداقل پوهه او معلومات لري یا کار کولای شي ګډون وکړي او خپله ونډه ثابته کړي.

### اتمه ماده: د محصلانومکلفیتونه:

4) دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې ټول محصلان( برحاله او فارغ محصلان) په دې مکلف دي چې په خپلو سیمو کې اړونده د خپل مسلک او نورو موضوعاتو په حل کې خپل رول اداء کړي. او هغه موضوعاتو ته چې افغاني ټولنه ورته جدي اړتیا لري د هغې په اړه د هغو سیمو او سیدونکو ته عامه پوهاوی ورکړي. همدارنګه په لرو پرتو سیمو کې د عامو خلکو مرتبطو مسایلو ته رسید ګي کې ترممکنه حده برخه واخلي.

5) ټول محصلین مکلف دي چې د خپلو د مضامینو اړونده کورنیو دندو او د خپل مونوګراف موضوعات د ځان لپاره داسي موضوعات او عناوین وټاکي چې هغه د ټولني حداقل یوه کوچنۍ ستونزه حل کړي.

6) همدارنګه ټولو محصلین خپل وس مطابق د هېواد په مختلفو رضاکارانه کارونو کې چې دوي پکې حداقل پوهه او معلومات لري یا کار کولای شي ګډون وکړي او خپله ونډه ثابته کړي.

7) نور هغه چاري چې د محصلینو پورې اړه لري لکه عام عشر، خیره کارونه، د ټولني پاکوالی ته پام کول.

## درېیم فصل

## متفرقه احکام

### نهمه ماده: د ټولني په پرمختګ د علمي ، اداري کارکوونکو او محصلانو ونډې اخیستنې چوکاټ:

**1)** دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې ټول رهبري، علمي کادرونه، اداري، برحاله محصلان/محصلات او فارغ محصلان/محصلات مکلفیت لري چې د ټولنې په ټولو مرتبطو مسایلو کې ځان دخیل کړي او هغو مسایلو ته د قانون او اسلامي شریعت په چوکاټ کې د حل لارې چارې ولټوي.

2) دالتقوی د لوړو زده کړو مؤسسې ټول رهبري، علمي کادرونه،اداري، برحاله محصلان/محصلات او فارغ محصلان/محصلات مکلفیت لري چې قومي مشرانو، علماء کرامو، ځوانانو، کسب کارانو سره ناستې وکړي او هغوی ته د اسلامي شریعت او قانون په رڼاء کې د خپلو امورو د ترسره کولو په پار لازمې مشورې ورکړي.

3) هغه ټول علمي او ټولنیز فعالیتونه چې په ملي کچه ټولنه کې په مختلفو وختونو او ځایونو کې ترسره کېږي د هغې په اړه باید یو منظم راپور ترتیب خپل لاربښود استاد ته وسپاري او استاد مکلف دی چې هغه راپور د خپل پوهنځي فرهنګي کمیټې ته وسپاري.

### لسمه ماده: په ټولنه کې د ونډې اخیستلو د میکانیزم تصویب او انفاذ:

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې په ټولنه کې د ونډې اخیتستنې مکانیزم په ( دریو فصلونو) او لسو مادو کې ترتیب او د مؤسسې د ۱۴۰۲ کال په (۸) کښه علمي شوری کې چې په ( ۳۰/ ۱۴۰۱/۰۸) نېټه دایره شوې د هر اړخیز بحث څخه ورسته رایو په اتفاق تصویب شوه او له همدې نیټې ورسته نافذ دی.

**خوشحال جواد**

**د التقوی د لوړو زده کړو موسسې رئیس**